# د رومانوي فکري خوځښت د فکري اډانې تنقيدي جائزه او بنيادي خدوخال

# A critical review of the Intellectual Structure of the Romanticism and Its Basic Characteristics

Mir Hassan khan Atal[1]
Dr. Sherzam Seemab[2]
Paghunda Mukhtiar [3]

**ABSTRACT**

*Romanticism refers to a cultural and artistic movement that emerged in Europe in the late 18th and early 19th centuries. It was a reaction against the rationalism and restraint of the Age of Enlightenment and emphasized the power of emotion, individuality, imagination and nature. Romanticism encompassed various forms of art, literature, criticism, music and philosophy. It had a significant impact on literature, influencing the works of famous poets and writers such as William Wordsworth, Samuel Taylor Coleridge, Lord Byron, Percy By Shelley and John Keats. In this research article, a brief critical review of the basic characteristics and intellectual structure of this cultural and literary movement (Romanticism) has been made.*

*Key words: romanticism, cultural movement, intellectual trend, western civilization, painting, architecture, historiography.*

**Key words**: Romanticism, Enlightenment, cultural movement, literary movement

## رومانويت

رومان يا رومانټک (روماونيت) د رومن (لرغوني فرانسيسي) ژبې کلمه او معنا ئې هغو ځائي (Vernacular Languages) ژبو ته اشاره کول دي چې له لرغونې لاطينې ژبې څخه رازيږېدلې او يواځې د وئيلو تر حده محدودې پاته شوې وې، البته د وخت له تېريدو سره د دې اصطلاح معنا پراخه او هغو ټولو تخيلاتي او درباري عشق کيسو ته دغه نوم (رومان يا رومانټک) ورکول شو چې بنيادي تعلق ئې هم له دغو ځائي يا رومانوي ژبو سره وو، دا ډول د اوولسمې مېلادي پېړۍ په اوږدو کښې دغه ادبي اصطلاح نوره هم په پراخه معنو راڅرګنده او په لوېديځو ژبو کښې هغو ټولو ادبي هڅو په خصوص د افسانوي يا خيالي کيسو ليکلو، د زړه راکوښونکو او حېرت انګېزو کارونو ترسره کولو، فضول خرچېو، مبالغه امېزيو، انفراديت ساتلو، وهم، وېره او دې ته ورته نورو سرګرميانو ته هم د رومانويت نوم ورکول شو، کله چې د اتلسمې پېړۍ د پاۓ په لسيزو کښې د اروپا پر خاوره د يوه داسي کلتوري او فکري رجحان نخښې راڅرګندې شوې چې يو شمېر ځانګړتياوې ئې هم دې ډول ادبي او کتلوري هلوځو ته ورته وې، نو هغه ته هم دغه نوم (رومانويت) ورکول شو.

دا فکري رجحان او کلتوري اوښتون (انقلاب) د اتلسمې مېلادي پېړۍ په وروستيو لسېزو کښې رامنځته شو ے او مفکرينو ئې غوښتل چې د ادب، موسيقي، ډرامې، کره کتنې، مصورۍ، فن تعمير او نورو فنونو په برخه کښې نه يواځې نوو فکري او کتلوري رجحاناتو ته لاره هواره کړي بلکې

---

[1] PhD scholar Pashto academy university of Peshawar
[2] Research Officer Pashto academy university of Peshawar

هغو تړلو روايتي معيارونو او اصولونو ته د پاړې ټکې کښېږدي چې د کلاسيزم يا نيوکلاسيزم په نوم ئي مسلسل د تقليد هڅې رواني وې. هم دا وجه وه چې رومانوي شاعرانو، فنکارانو او مصورانو پخپلو فني او ادبي تخليقاتو کښې د عقل او منطق پر ځاے د انساني تخيلاتو او تصوراتو مفکوره راژوندى او خپل فن او هنر ئي د عقل له فلسفو څخه د ځنډلو او صفا کولو کوشش شروع کړ.

بلېک، ورډز ورتهـ، بائرن، شيلي، کيټس، شومان، ډوما، هيوګو، ويکسز، براهمز، ډيلکرا ے، والټر سکاټ، ګوئټې، شيلر، جورج سېنډ، هائيډن، ميتهوون او نور هغه شاعران، ناول نګاران، ژباړل او هنرمندان وو چې د دغه کلتوري رجحان بنيادي مفکوره ئي سازه او د فن او ادب په دنيا کښې ئي د شعوري رومانويت فکري تحريک رامنځ ته کړ، د انګليسي ژبې په نامتو انسايکلوپيډيا (برټانيکا)کې د دې فکري او کلتوري رجحان (رومانويت) تعريف داسې شوے دے:

**Romanticism**, attitude or intellectual orientation that characterized many works of literature, painting, music, architecture, criticism, and historiography in Western civilization over a period from the late 18th to the mid-19th century. Romanticism can be seen as a rejection of the precepts of order, calm, harmony, balance, idealization, and rationality that typified Classicism in general and late 18th-century Neoclassicism in particular (Britannica).[3]

**ژباړه:** رومانويت د هغې روئي يا فکري رجحان نوم دے چې د اتلسمې پېړۍ له اوستريو لسيزو څخه ئي د نوسلمې پېړۍ مېلادي تر نيمائي پورې دوام وکړ. او د غربي تهذيب د ادب، مصورۍ، موسيقۍ، فن تعمير، کره کتنې (تنقيد) او تاريخ ليکنې په برخه کښې لوے شمېر کارونه ځانګړي او مشخص کړ، دغه فکري خوځښت (رومانويت) د روايت پسندۍ، سکون، هم اهنګۍ، انډول (توازن)، مثاليت پسندي (idealization)، عقليت پسندۍ چې په عامه توګه د کلاسيزم او په ځانګړې توګه د اتلسمې پېړۍ د وروستيو لسيزو د نيوکلاسيزم مثالونه دي ردوي.

### (۱). د رومان د کلمې آر او معنا

د رومان د کلمې د اصـــل رېښـــې يا کره معنې په اړه که څه هم د نقادانو او محققينو ترمنځ ژور اختلافات موجود دي، خو د زياترو دا خيال دے چې د دې کلمې اصـــل ار يا رېښـــه د لاطيني ژبې د رومانيس (Romanius) له توري را ټوکېدلي چې مفهوم پر هغو ژبو يا ادبياتو اطلاق مومي چې له لرغوني لاتيني ژبې څخه را وتلي دي. نامتو محقق او ليکوال شاغلے عبدالمالک په دې اړه يو ځاے وائي:

"دغه لفظ د (Romanius) له کلمې څخه مشـتق دے کوم چې پر هغه ژبو او ادبو اطلاقيږي چې له لرغوني لاتيني ژبې څخه را وتلي دي، په منځنيو پېړيو کښې د پخواني روم د ژبې د لاتيني ژبې عامي لهجې بلل کېدې".[1]

**اصطلاحي معنټ:** د اصطلاحي معنے له پلوه رومانويت د اتلسمې پېړۍ هغه کلتوري، فکري او ادبي تحريک ته وئيل کېږي چې د بنياد خښته يې د نيو کلاسيزم ضد افکارو په بټې کښې پخه شوې ده. د رومانټيسيزم په انسائيکلو پيډيا کښې ئي داسې تعريف شوى دى:

"A movement in the arts and literature which originated in the late 18th century, emphasizing inspiration, subjectivity and the primacy of the individual[2]"

---

[3] .https://www.britannica.com/.

ژباړه: د فن او ادبیاتو په برخه کښې هغه تحریک چې د اتلسمې مېلادي پېړۍ په او ستریو لسیزو کښې یې زړ ے را و تړوکېدلے، او پردې خبره یې زور واچول چې د کیفیت او شخصي ازادئ دي باید حوصله افزایي و شي.

د پښتو ژبې نامتو محقق او ادیب اروا ښاد راج ولي شاه خټک هم په یوه خپل مضمون (رومانویت او پښتو نظم) کښې د رومانویت د تعریف په برخه کښې د ورته خیالاتو اظهار کړے دے او وائي:

"په ارټ یا فنونو کښې عموماً او په فلسفه کښې خصوصاً رومانویتد یو منفرد رجحان په حیث اول په یورپ او بیا په روس کښې خور شو، د دي شروعات د اتلسمې صدۍ په اخر کښې او د نولسمې صدۍ په شروع کښې شوے دے، د یو تحریک په صورت کښې رومانویتد نیو کلاسیزم په مقابله کښې مخې ته راغلے دے "[3]

## (۲). تاریخي پس منظر

رومانویت د هغه کلتوري، ادبي او فني انقلاب نوم دے چې د اتلسمې پېړۍ له اوستریو لسیزو څخه ئې د نوسلمې مېلادي پېړۍ تر نیمائي پوري نه یوائې دوام وکړ بلکې په یوه لنډه موده کښې ئې غربي تهذیب، کلتور، ادب، تنقید، تاریخ نګاري، موسیقي، فن مصورۍ، فن تعمېر او نور فنونه تر ژورو اغېزو لاندې راوستل، وروسته ئې د نورې نړۍ فنونو او ادبیاتو ته هم ځان ورسولے.

د دغه کلتوري تحریک (رومانویت) د فکر تېغ که څه هم لومړے وار د المان (جرمني) پر خاوره راټوکېدلے دے، خو کله چې انقلاب فرانس او انقلاب امریکه واقع شو نو د شعور انګازې ئې په ټوله اروپا په خصوص د انګلستان پر خاوره ډېرې په تېزۍ سره خورې ورې شوې. په لنډ وخت کښې ئې د روس او ختیځې اروپا نور هم تر اغېزو لاندې راوستل. چې د رومانټیسزم په انسائیکلو پېډیا کښې ئې داسې یادونه داسې شوې ده:

"Romanticism was influenced by the ideals of the French and American revolutions, which sought to free man from a rigid autocratic society" (encyclopedia of romanticism online)

ژباړه: د رومانویت تحریک د فرانس او امریکې له انقلابونو چې مخکښانو ئې دا هڅه او کوشش کړے وو چې خپل اولسونو د سخت ګیر او مطلق العنان سماجیت له ولکې بهر وباسي، تر ژورو اغېزو او اثراتو لاندې راغلے ؤ.

## (۳).بنیادي محرکات

د تاریخ له مطالعې څخه دا خبره جوته ده چې د هر فکري تحریک یا ادبي رجحان شاته د هغه دور د سماجي او سیاسي حالاتو او بدلونونو لوے لاس وي. بل هر فکري، ادبي او کلتوري تحریک او رجحان په څېر د رومانوي تحریک شاته هم د خپل وخت د اهمو سیاسي، سماجي او معاشي بدلونو لاس او قوي رول ؤ. ځکه چې دا پنځوست کلن فکري تحریک په یوه داسې وخت کښې سر راپورته کوي (۱۷۹۸م څخه ۱۸۳۸م) چې اروپائي او شمالي امریکې اولسونه تر یو شمېر اهمو سیاسي، سماجي او معاشي انقلابونو ځان راتېروي، چې دلته لنډه جائزه اخلو.

### (i).د روښانتیا فکري تحریک (Enlargement Movement)

کله چې د اولسمې مېلادي پېړۍ په اوږدو کښې د اروپا پر خاوره د بادشاهت او غلامۍ د نظام (Monarchy, System of Slavery) رنګ او پر ځای ئې د آئیني حکومتونو مفکوره منځ ته راغله. د سټېټ او چرچ لارې او چارې

سره بېلې کړل شوې. د خلقو ته وئيلو او په خلاص مټ اظهارکولو مواقعې ورکول شوې. نو په نتيجه کښې ئې د يادې خطې په ټولنيز نظام او سماجي برخورد کښې د پام وړ فکري تغيرات او بدلونونه رامنځ ته شو چې وروسته ئې پر پراخه کچه سياسي، سماجي، معاشي او نورو تحريکونو ته لاره هواره کړه. ځکه وئيلی شو چې رومانوي فکري د سر کړی هم دغه دور ته ځان رسوي.

(ii). د صنعتي او زرعي انقلابونو راتګ

د رومانيت (رومانټيسيزم) د فکري تحريک دويم لوے او بنيادي محرک د اتلسمې مېلادی پېړی په اوږدو کښې هغه صنعتي او زرعي انقلابونو وو چې يو په بل پسې رامنځ ته او په لنډه موده کښې ئې د اروپا د سماجي نظام بنيادونه وښورول. دا دواړه داسې انقلابونه وو چې پر يوه وخت ئې د يادې خطې اولسونو ته د هيلو او ناهيليو احساسات وربخښل. هم دا وجه ده چې د دې فکري او کلتوري رجحان (رومانويت) په بنيادي مفکوره کښې د دې دور د نورو سماجي او سياسي انقلابونو سره سره د دغو دوو اهمو انقلابونو (صنعتي او زرعي انقلاب) اثرات هم ډېر زور او په ځانګړې بڼه راځرګند شو. د الباحه پوهنتون پروفېسرې ډاکټر صوفيه صديق قرېشي چې په خپله يوه مقاله (Importance of Romantic Period in Modern Day English) کښې ئې پر دې موضوع تفصيلي بحث کړی دی وائي چې د دې فکري تحريک اصل محرکات هم دغه دوه انقلابونه وو:

In the romantic era, poets were influenced by the Industrial and Agricultural revolutions. However, the major impact of this revolution can be found in Blake's poetry. His *"Songs of Innocence and Experience"* was based on the industrial revolution where he mentioned a brutal picture of society (Canli, M., 2019). The part of "Innocence" was a description of the situation before industrial revolution and "Experience" described post effect of the revolution where children were punished in society and forced to work at lower wages than adults. In that era, children were found working at the age of 4. Here, Blake's poetry expressed the innocence of childhood that was compared to lamb, a sign of Jesus Chris. [4]

ژباړه: په رومانوي دوره کښې شاعران د صنعتي او زرعي انقلابونو تر اغېزو لاندې راغلي وو، هم دا وجه وه چې د بلېک (Black) په شاعري کښې د دې اوښتونو (انقلابونو) ځرګندې نخښې ترسترګو کېږي. د نوموړي شاعر د (Innocence and Experience) موضوع هم دغه صنعتي انقلاب او له دې لارې ئې د ټولنې د يوه ظالمانه انځور وړاندې کولو کوشش کړے ؤ. د دغه کتاب لومړے برخه (Innocence) د هغو حالاتو عکاسي کوي چې تر دغه انقلاب مخ کښې واقع وو. او دوهمه برخه (*Experience*) ئې بيا د هغو حالاتو عکاسي کړې ده چې له دغه انقلاب وروسته رامنځ ته شوي وو. هغه وائي چې اوس په ټولنه کښې ماشومان مجبور کړل شوي دي چې د لويانو په پرتله په کوچنيو معاوضو (معاش) کار وکړي. دا يو داسې دور دے چې څلور کلن ماشومان هم کار کولو ته مجبور کړل شوی دی. هم دا وجه ده چې هغه په خپله شاعري کښې د ماشومتوب معصوميت له وري (د مېږې له بچي ) او حضرت عيسے عليه السلام سره مشابهه کړے دے.

**(iii). د امريکې او فرانس د سياسي او نظامي انقلابونو راتګ**

د رومانوي فکري رجحان درېيم لوے او بنيادي محرک د امريکې او فرانس هغه سياسي او نظامي انقلابونه وو، چې په نتيجه کښې ئې د دې دواړو براعظمونو د کلتوري او سماجي ژوند بنيادي اړانا ډېرو اهمو

فکري تغیېراتو ته مخامخ کړه. په خصوص د شخصي ازادۍ په برخه کښې چې کوم بنیادي ګامونه واخستل شو هغه ډېر اغېزمن او ګټور ثابت شو. هم دا وجه وه د دې مکتب فکر شاعرانو، لیکوالانو، مصورانو، موسیقارانو، هنرمندانو او نورو تخلیقارانو ته دا موقع په لاس ورغله چې په خلاص مټ او لوے زړه د هغو ټولو ټولنیزو سیاسي، سماجي، معاشي او فکري بدلونونو په مقابل کښې ږغ پورته کړي چې د روښن فکرۍ د تحریک او صنعتي او زرعي انقلابونو په نتیجه کښې منځ ته راغلي او د دوے په فکر د انساني فطرت خلاف وو. که رښتیا خبره شي نو (رومانیت) د یوه داسې کلتوري او فکري رجحان نوم ؤ چې نه یواځې ئې د دوو لویو براعظمو (اروپا او شمالي امریکه) نوي سماجي بهېر ته د شک په نظر وکتل بلکې هغه ټول سماجي او ټولنیز بدلونونه ئې هم وغندل چې د یادو انقلابونو (صنعتي او زرعي) په نتیجه کښې په ناڅاپې توګه رامنځ ته شوي وو.

**(۴). بنیادي افکار او مقاصد**

هر کله چې یو خیال یا فکر شاته کوم شعوري مقصد او دغه شعوري مقصد بیا شاته کوم دانشورانه شالید (intellectual background) ولري، نو د وخت له تېریدو سره دغه خیال یا فکر هرومرو د کوم فکري، کلتوري یا ادبي تحریک بنه خپلوي. رومانویت هم د کلتور، فن او ادب په برخه کښې د یوه داسې فکري رجحان نوم دے چې ځان ته بېل مقاصد او ځانګړي افکار لري، چې دلته ئې لنډه جائزه اخلو.

**i. د داخلیت پسندۍ تصور**

د ادب تعلق تش له تخیلاتو، تصوراتو او جذباتو سره دے او که له معروضیت، استدلال او عقل سره هم کوم تعلق لري..؟ په اصل کښې دا یوه داسې پوښتنه ده چې په اړه ئې نه یواځې ډېر پخوا بحث پیل شوے دے بلکې د دې دواړو نظریاتو په حق کښې په وار وار په زړه پورې دلایل هم وئیل شوي دي. مثلاً د نړۍ لومړي شاعر هومر د خپلو حماسي او اولسي سندرو په اړه وئیلي ؤ چې ما ته دا هر څه د یوه مقدس قوت لخوا رابخښل شوي دي. ځکه هر څوک نه شي کولے چې زما په څېر سندرې ووائي او خلګ خوشاله وساتي. که د نوموړي شاعر د دې ادعا جائزه واخستل شي نو سړے وئیلې شي چې د شعر او ادب بنیادي تعلق د معروضیت پر ځاے له داخلیت سره دے. خو افلاطون بیا له شاعري څخه د ټولنې د اخلاقو د سمولو هیله لري. او د ده دغه هیله دا څرګندوي چې د شعر او ادب تعلق له داخل سره سره له معروض هم لږ یا ډېر تعلق لري. خو شاګرد ارسطو ئې بیا په دې اړه هومر ته ورته نظر لري او وائي چې شعر او ادب باید تل د انسان داخلي خوښۍ او خوشالۍ سبب وګرځي.

چونکې د شعر او ادب په اړه داخل او خارج بحث په وروستیو پېړیو کښې هم دوام موندلی دی، ځکه رومانیانو هم په دې اړه نه یواځې د خپل بېل نظر څرګندونه کړې ده بلکې هغو ډېر په شدت او سختۍ سره پر دې خبره زور هم اچولے دے چې د شعر او ادب تعلق باید تش له داخلیت او د انسان له داخلي احساساتو او کیفیاتو سره تړلے پاته شي. ځکه چې دا یو جمالیاتي شے دے او په جمالیاتي شي کښې تش د تصوراتو، تخیلاتو، ښکلاګانو، ښکلو احساساتو او د ژوند د لطیفو اړخونو په اړه اظهار او څرګندونې کېداے شي. او که کله هم دغه جمالیاتي شے د شډلو موضوعاتو او ستغو رویو لاسونو ته حواله شو نو پوه شه چې خپل اصل مقصد به له لاسه ورکړي. لکه د اردو ژبې لیکوال پروفېسر رحمت علي ظفر چې وائي:

رومانویت وہ طرز احساس اور انداز اظہار ہے جس میں فکر کے مقابلے میں تخیل کی گرفت مضبوط ہو، خیال وخواب کی گل پوش وادی میں گھومنے رہنا رومانویت ہے ایک لحاظ سے رومانی یوٹوپیا ہوتا ہے[5].

ژباړه: رومانویت هغه طرز احساس او د اظهار د بیانولو انداز دے چېري چي د فکر په پرتله د تخیل گرفت مضبوط او قوي وي. د خیالونو، خوبونو په دنیا او گل ورینو ناوو کښي گرځېدلو او راگرځېدلو ته رومانویت وائي. رومانویت په اصل کښي یو روماني یوټوپیا 4 ده.

**ii. له فطرت او فطرتي مظاهرو سره مینه**

کله چي د اوولسمي او اتلسمي مېلادي پېړیو په اوږدو کښي په اروپا کښي د روښانتیا له تحریک ( Enlightenment movement) وروسته صنعتي او زرعي انقلابونو راتگ ته لاره هواره شوه، نو د اروپا په زیاترو ښارونو، ښارگوټو، لویو او کوچنیو کلو کښي د کارخانو، فابریکو او نوو نوو صنعتي یونټونو د لگولو کار ته ملا وتړل شوه. هغه اروپایان چي لا تر دې دمه په کلیوالو سیمو کښي استوگن وو د ښه روزگار، ښه تعلیم او ښه صحت په لټون پسي ښارونو ته راکډه کېدل پیل شو. کله چي د اربنائزیشن دغه لړی ورځ تر بلې تونده شوه نو په نتیجه کښي د ښارونو او ښارگوټو پسمانده نظام نور درهم برهم او د سترگو په رپ کښي هر لور ته د ټولنیز انتشار او انساني افراتفري فضا رامنځ ته شوه. هغه شنه او زرغونه مضافات چي ښارونه او ښارگوټي به ښکلي او پاک ساتل په ناڅاپي توگه په هاوسنگ سکېمونو، کچه ابادیو، بې ډوله ودانیو، تنگو کوڅو او گنده بازارونو، د سخا اوبو په ډنډونو او بلها ډېرو ډېرانونو بدل شو. هوا تر اوستري بریده ککړه او د بې هنگمه شور له لاسه د انسانانو ژوند ډول ډول تکالیفو ته مخامخ شو. چې په نتیجه کښي ئې هر لور ته روغتیائي او نفسیاتي مسائلو هم سرراپوته کړ. او کله چي دغه لړی (د انسان او فطرت ترنځ جنگ) لږ نوره هم پراخه شوه نو په داسي حالاتو یو شمېر مفکرینو چي اوس ئې موږ د رومانویانو په نوم پېژنو ډېر په شدت او منظمه توگه د دغو بدلېدونکو حالاتو په مقابل کښي ږغ پورته کړ او و ئې وئیل که د فطرت د تباهي دغه لوبه هم داسي دوام ومومي، نو هغه ورځ لیرې نه ده چي انسان او د هغه ژوند به یو ډول داسي ناقابل برداشت حوادثو ته مخامخ شي چي وروسته به ئې بیا ازاله کول نامکن کار گڼلی شي. هم دا وجه وه چي هغو د فطرت او د هغه له هر ډول مظاهرو سره د بې غرضي مینې کولو پر خبره زور واچولے او و ئې وئیل د سماجي پرمختگ دغه بهېر (د فطرت د تباه کولو او خرابولو کار) غېرفطري او انسانیت د بقاء خلاف کار دے.

رومانیانو د فطرت او فطرتي مظاهرو په مینه کښي د مځکې او اسمان د رایو ځاے کولو کوشش شروع کړ، دوے هڅه وکړه چي فطرت او د هغه ټول اړخونه په یوه داسي زړه راکښونکې بڼه بیا کړي چي گواه هر د نړی د ټولو ښکلاگانو تعلق یواځې له فطرت سر دے، هم دا وجه وه چي رومانیانو د فطرت له ښکلو اجزاؤ سره سره د هغو اجزاؤ ستائنه هم پیل کړه چي په

---

4. یوټوپیا (Utopia) عموماً د یوې داسې خیالي ټولنې خیال ته وائي چې ټول غړي ئې خورا زړه راکښونکي ځانگړتیاوې او بشپړ صلاحیتونه ولري، او دا خیال هغه وخت رامنځ ته شو چي کله په کال ۱۵۱۶م کښې توماس مور په دې نوم کتاب ولیکلے.

عمومي توګه د انسانانو له پامه غورځېدلي یا د هغو کرکجنو رویو سره مخامخ وو، شپه، تیاره، مار، لړم، مچ، تیاره، اغزي او نورو په اړه ئې زړه راکښونکي خبرې وکړې، ډاکټر امال اېم. اې. ابراهیم په خپله یوه تحقیقي مقاله (Romantic Poets Love Nature and Celebrate It in Different Aspects) کښې د رومانیانو او فطرت تعلق په اړه داسې لیکلي دي:

The romantic poets touched the agony of every spirit and every sight of natural beauty. The romantic’s poets’ substituted love, emotions, imagination, and beauty. They tried to heal the sorrows of human beings by writing their verses about nature. I believe that romantic poets see that nature is a precursor of revelation. They employ natural language and impersonate nature as God, man, etc.[6]

ژباړه: رومانوي شاعرانو د فطرت هر رنګ او د هر روح درد لمس کړے دے، دوے خپل ځانونه د مینې، جذباتو، تصوراتو او ښکلاګانو په احساساتو بدل کړي، دغه شاعران هڅه کوي چې د فطرت په اړه د خپلو اشعارو په لیکلو سره د انسانانو د غم او درد علاج وکړي. زه یقین لرم چې دوے دا وینې او حسوي ئې چې فطرت تر کشف هم مخکې په وجود کښې راغلے دے، رمانوي شاعران نه یواځې د فطرت ژبه کاروي بلکې فطرت د خداے، انسان او نور شیانو نقل هم ارزوي.

د رومانوي دورې په ټولو ادبي او هنري تخلیقاتو کښې د فطرت او د هغه د هر ډول مظاهرو په خصوص د غرونو، رغونو، ګلانو، ونو، باغونو، مرغانو، شپې، تیارې، ورځې، اسمان، ستورو، باران، اوبو، هوا، یخ، ګرمي، سیندونو، چینو، ډنډونو، خوړونو، سمندرونو او نورو په اړه خورا خوندورې خبرې او په زړه پورې عکاسي شوې دي، په رومانوي اثارو کښې د فطرت ټول رنګونه شاهکاره او شانداره بلل شوي دي، لکه د نامتو رومانوي شاعر ویلیم ورډز ورتهـ چې د خپل مشهور نظم "I Wandered Lonely as a Cloud" په یو بند کښې وائي:

I wandered lonely as a cloud
That floats on high o'er vales and hills,
When all at once I saw a crowd,
A host of golden daffodils;
Beside the lake, beneath the trees,
Fluttering and dancing in the breeze.

زه د اووره په څېر تنها ګرځېدم
د غرونو او ناوو پر سرونو الوځم
بیا مي ناڅاپه یوه ګڼه ګونه ولیده
د زېړو نرګسو په کوربتوب کښې
د ډنډ پر غاړه او تر ونو لاندې
په وږمو کښې ئې نڅا او ګډا کوله

### iii. د بلیو کلچر (blue culture) تصور بېرته راژوندۍ کول

بلیو کلچر په اصل کښې د ادبیاتو او نورو هنرونو په تاریخ کښې هغه لرغوني دود او علمي روئې ته وئیل کېږي چې کله فلاطون او د هغه دور یو شمېر نورو فلسفیانو او لیکوالانو د دې لپاره چې پخپلو لیکنو کښې لا کشش او رومانوي رنګ کړي سمندر او د هغه زړه راکوښونکے شین زرغون رنګ د یوې ادبي استعارې په توګه کارول پیل کړل، د پنځلسمې

مېلادي پېړۍ په اوږدو کښې دغه ادبي استعاره نوره هم پراخه او په سنجيده بڼه کارول پيل شوه، په خصوص د ځواک، ښکلا، خاموشۍ، ارام او کله ـــــــ کله به د لوے خطر لپاره هم دغه ادبي استعارې کارول کېدې.

سمندر او د هغه زړه راکښونکي رنګونه (شين يا اسماني رنګ) که څه هم لاپخوا د فطرت د يوه اهم مظهر او ښکلا د سمبول په توګه ارزول پيل شوي ؤ، خو رومانوي شاعرانو او فنکارانو دغه ادبي استعارې په نوي رنګ کارول پيل کړې، دوے کوشش وکړ چي سمندر د يوې داسې مقدسې هستۍ په توګه معرفي کړي چي پر يوه وخت د بلها بلها خدائي صفاتو څښتن او لرونکے دے، د الباحه پوهنتون پروفېسرې اغلې ډاکټر صوفيه صديق قريشي په خپله يوه مقاله (Importance of Romantic Period in Modern Day English) کښې د د بلپو کلچر او روماني ادب د تعلق يادونه داسې کړې ده:

Land was defined as elderly and human, and sea was elaborated as chaotic and divine- In Byron's poetry, the sea can be found as symbolized in the mentioned manner. Poets from the romantic era lived in their imagery world. They used 'personification' to symbolize characters that were emotional in nature.[7]

ژباړه: دلته ځمکه مشره او د انسان په توګه ارزول شوې ده، او منتشره او خدائي صفاتو لرونکے ارزول شوے دے، د بايرن په شاعري کښې سمندر ياد شوو استعارو د سمبول په توګه ياد شوے دے، د رومانوي دورې شاعران د خپلو خيالانو او تصوراتو په جهان کښې اوسېدل، دوے د کرکټرونو سمبول کولو لپاره 'شخصيت' کارولے چې احساساتي طبيعت وو.

دلته بايد يوه بله يادونه هم وکړو، چي د معاصرې دورې د ميرين سائنس مطالعاتو اصل ماخذ هم دغه د (بليو کلچر) نظريه وه، چي په لومړي وار ئې د انسان پام سمندر او د هغه په غېږه کښې خوندي دنيا ته را ړولے.

### iv. د کلاسيکي معيارونو او نيو کلاسيزم ضد تصورات

لکه څنګه چي له نوم څخه ښکاري نيو کلاسيزم د اوولسمې مېلادي پېړۍ د يوه داسې کلتوري خوځښت او فکري رجحان نوم دے چي د ادب، تهېټر، موسيقي، تعمېراتو، مصورۍ او نورو بصري هنرونو په برخه کښې ئې د کلاسيکي دور د معيارونو، اقدارو، اصولونو او قوانينو د خپلولو او د هغو د تقليد کوول پر خبره زور اچولے، دغه فکري رجحان کابو يوه پېړۍ دوام وکړ او د اتلسمې مېلادي پېړې د پاے په لسيزو کښې ختم او پاے ته ورسېد.

د دې فکري تحريک (نيو کلاسيزم) محرکينو غوښتل چي د ادب او د فنون ليطفه د نورو ژانرونو په برخه کښې د هغو لرغونو معيارونو او اقدارو د خپلولو کوشش وکړي چي د کلاسيکي دورې د مفکرينو او پوهانو لخوا ټاکل شوي او منځ ته راغلي وو، دغو مفکرينو فکر کولے که د معاصرې دورې ادبيات او فنونه د نوي او زاړه دور د افکارو له ګډ امتزاج څخه منځ ته راشي، نو دا به نه يوائې افاقي صورت او همه ګېر ارزښت ولري بلکې د انسانانو د فکري اثاثې د غني کولو او پراخولو په برخه کښې به هم مرسته وکړي، دوے غوښتل چي داسې ادبيات او فنونونه تخليق او منځ ته راشي چي د خواصو د ذوق او جذباتو د خړوبولو ځانګړتياوې ولري، د سند حيثيت، اخلاقي رښتيا د رازيږولو توان او د تل پاته جوش او جذبې د تسکين وسائل ولري، د کوم نوښت راوستلو بغېر دي هم نوي او زړه راکښونکي ښکاره شي، او د مثال په توګه دي وکارول شي، دغه ادبيات او

فنون دي د خپلو ټولنو او قامونو د مجموعي مزاج او اجتماعي کردار د عکاسي کولو استعداد ولري، له تخیلاتي او جذباتي تصوراتو دي لیرې او عقل او عقلي قوانینو ته دي نېږدې وساتل شي، او داسې نور.

په اصل کښې د ادبیاتو او نورو فنونو په برخه کښې دا هغه اصول او غوښتنې وې چې د نیو کلاسیزم په نوم فکري رجحان ئې ساز او پر پښو ودرولے، او کله چې دغه فکري رجحان نور هم خور او پراخ شو نو په مخالفت کښې ئې هم نه یواځې سنجیده او فکري رغونه راپورته شو بلکې د دې فکري رجحان مخالفینو چې وروسته نړۍ د رومانیانو په نوم وپېژندل ووئیل: انسان ازاد پیدا شوے دے، هغه باید په هر صورت هم داسې ازاد او خپلې مرضي ته پرېښول شي، هیڅوک هم دا حق او اختیار نه لري چې د هغه له ذهني یا فکري پلوه غلام وساتي، او هغه د کلاسیکیت، اقدارو یا نورو نومونو په نوم د غلامۍ او محدودیت په زنځیرونو کښې تړلے وساتي.

لکه روسو چې وائي:

"Man is born free but everywhere is in chains."

ژباړه: انسان ازاد پیدا شوے دے، خو چې چېرې ئې هم وینې نو پښو ته ئې زنځیرونه اچول شوي دي.

تردې څو لسیزې پخوا کړې وه خو د رومانوي مکتب فکر مفکرینو دغه خبره نه یواځې د خپلې فلسفې بنیادي توکے وګرځولے بلکې کوشش ئې وکړ د خورولو او پراخلو لپاره ئې سنجیده ګامونه واخلي، د اردو ژبې نامتو لیکوال او نقاد پروفیسر انورجمال هم په خپل (ادبي اصطلاحات) نومي کتاب کښې دې خبرې ته نه یواځې اشاره کړې ده بلکې اصل محرک هم روسو ګرځولے دے:

"ادب میں روماونیت کی تحریک کا باقاعدہ بانی روسو (Rousseau) ہے، مغرب میں ڈرائیڈن او پوپ نے کلاسیکی تحریک پیدا کی، روماونیت کلاسیکیت سے بغاوت کی تحریک ہے، کروچے نے روماونیت کو کلاسیکیت کی بجائے حقیقت پسندی کی ضد قرار دیا ہے اوداخلیت کی اس کا اہم عنصر بتایا ہے"[8]

هم دا وجه وه چې ټولو رومانوي شاعرانو او فنکارانو په خپلو تخلیقاتو کښې نه یواځې ډېر په شدت سره د انسان د شخصي ازادۍ پر خبره زور واچولے بلکې هغو دا هم ووئیل چې لازمي نه ده چې موږ به ټول عمر د اعلے معیار او اعلے قدرونو په نوم د یونانیانو، رومنو یا نورو قامونو پېروي کوو، موږ خپله هم ډېر څه لرو او هم ئې منځ ته راوړلے شو.

### v. مافوق الفطرت شیانو باندې یقین کول

د دغه فکري مکتب (رومانویت) یو بله ځانګړتیا دا هم ده چې تل ئې فطرتي شیان په غېرفطرتي او غېرفطرتي شیان په فطرتي بڼه اړولي دي، وروسته ئې له دغو غېرفطرتي شیانو او مافوق الفطرت کردارونو (Supernatural characters) څخه د څه کولو او احساس لرلو توقع هم کړې ده، ځکه ئې له هغو سره د خپلو احساساتو د شریکولو کوشش کړے دے، د دغه مکتب شاعرانو او نور هنرمندانو دا کوشش هم کړے دے چې هغه ټول مافوق الفطرت او تصوراتي کردارونو چې بنیادي تعلق د قرون وسطے له دور سره وو بېرته راژوندي او د خپلو تخلیقاتو موضوع ئې وګرځوي، هم دا وجه ده چې په ټولو رومانوي تخلیقاتو او فنپارو کښې له شاپېریو، دېبانو، پېریانو، دیوتاګانو،درد، ځرېکو، هواګانو، غرنو، خوړونو، سمندرونو، ونو، ګلونو او نورو تصوراتي او تخیلاتي کردارونو سره په داسې انداز او بیان خبرې شوي دي ته به وائي چې دا ټول شیان هم اوري او هم

پوهېږي، د دوے دغه خیال په اصل کښې د هغه باور چي فطرت او د هغه ټول اجزاء هم احساس لري او هم د خیره اقدارو حامل دي نتیجه ښکاري.

The essence of Romanticism, and the principle that allowed the Romantics to create a new conception of the world around them, was their belief in the power of creativity and imagination. Imagination gave the Romantics the possibility to dream of situations that surpassed reality; situations that poked fun at reason, by playing with the supernatural.[9]

ژباړه: د رومانتیت (رومانټسیزم) جوهر، او هغه اصول چي رومانیانو ته ئې دا اجازه ورکړې وه چي هغه د ګېرچاپېرې نړی په اړه یو نوے تصور رامنځ ته کړي، د رومانیانو د اختراعي صلاحیت او تصور (تخیل) په ځواک (طاقت) باندې باور کول وو، او دغو تصوراتو او تخیل دوے ته دا امکانات برابر کړ چي دوے د یو څو داسې حالتونو خوبونه ووینې چي له حقیقت یا واقعیت څخه هم مخ ته تګ کولے شي.

### vi. د انفرادیت تصور

لکه مخکې چي هم د دې خبرې ذکر وشو د روښانتیا د فکري تحریک له راتلو وروسته د اروپا خاورې داسې سیاسي، معاشي او سماجي اوښتونونه ولیدل چي په نتیجه کښې ئې د دغه براعظم زیاتره ټولنیز نظامونه ډېر په توندۍ او ناڅاپي توګه د اجتماعیت، سماجیت، علقیت پسندۍ او انتهائي زیاتي سنجیدګۍ لور ته روان شو، د شخصي ازادۍ او انفرادیت تصور ورځ تر بلې کم او پر ځاے ئې د اجتماعیت تصور قوي شو، خو بل لور ته رومانیانو ته دغه رویه د انساني فطرت خلاف او د یوې خاصې طبقې (اشرافیه) په ګټه ښکاره شوه، ځکه ئې په خپلو تخلیقي اثارو کښې د (اجتماعیت) پر ځاے د شخصي ازادۍ او انفرادیت (*individualism*) پر خبره زور واچولے.

### vii. رومانویت او کتلوري ملت پالنې روایت

رومانوي تحریک چونکې یو هم جهته او هر اړخېزه بڼه لرله ځکه ئې له یو شمېر نورو فکري او کلتوري رجحانونو سره سره د کتلوري ملتپالنې تصور هم راژوندے او دې لور ته ئې د خلګو پام راواړولے، رومانیانو په خپلو تخلیقاتو او فنپبارو کښې پر دې خبره زور واچولے چي په کوم صورت هم ممکن وي موږ باید د خپلو هغو کلتوري او فولکوري پانګو او اثاثو د راټولو او د هغو خوندي کولو په کار لاس پورې کړو چي د منځنیو پېړیو او نشاة ثانیه (Enlighten Movement) په دوره کښې د انسانانو له توجو لیرې پاته شوې دي، موږ باید په هر صورت د خپلو فولکوري سندرو، شعرونو، رومانوي او تاریخي داستانونو، ځائي نڅاګانو او موسیقۍ د ودې او پرمختګ لپاره کار وکړو.

هم دا وجه وه چي نامتو مفکر او مورخ والټر سکاټ هغه ټول ناولونه چي تر ډېره وخته ئې اختراع یواځې تاریخي واقعات ارزول کېده د تخیلاتي او تصوراتي لیک په ژبه د راژباړولو په کار لاس پورې کړ، دا ډول جان کېټس، لارډ بایرن او شیلي هم په دې کښې بریالي شو چي په خپله ژبه (انګلیسي) کښې رومانوي شاعري خپل عروج او اعلے مقام ته ورسوي، د انګلیسي ژبې په انسکائیکلوپیډیا (*Britannica*) کښې د رومانوي تحریک د کتلورے ملتپالنې د تصوراتو په اړه داسې لیکلي دي:

The second phase of Romanticism, comprising the period from about 1805 to the 1830, was marked by a quickening of cultural nationalism and a new attention to national origins, as attested by the collection and imitation of native folklore, folk

ballads and poetry, folk dance and music, and even previously ignored medieval and Renaissance works. (Britannica)

ژباړه: د روماونیت (رومانټسیزم) دوهمه مرحله چې د کال ۱۸۰۵م او کال ۱۸۳۰م تر منځ واقع وه، د کلتوري ملتپالنې تېز پرمختګ او قامي ورثې ته د نوې پاملرنې نخښې لري، د ځائي فولکلوري اثاثو، فولکلوري سندرو او شاعري د راټولولو او دا ډول د فولکوري نڅاګانو او موسیقې د ودې تصورات راژوندي کړل شو، په خصوص هغه فولکوري ورثه او مواد چې د منځنیو پېړیو او نشاة ثانیه (Renaissance) په دوره کښې له پامه غورځول پاته شوي وو.

### .viii له ټولنیزو او مذهبي اقدارو یا قدغونو څخه بغاوت

د دې لپاره چې انسانانو له یوه بل سره ګډ او په ارام ژوند تېر کړي انسانانو وخت په وخت ټولنیز قوانین وضع کړي او لا یې لړۍ دوام لري، داسې د نړۍ هر مذهب هغه که بیا الهامي وي او که بیا د انسانو خپل تخلیق خپل اصول او قوانین تعین کړي دي، که څه هم په یوه ټولنه کښې د ټولنیزو او مذهبي قوانینو او قدغونو و نه منلو ته په بده سترګه کتل کېږي، دا بد او ناوړه کار بولي، خو د رومانټسزم منونکي او لاروي بیا د هر ډول ټولنیزو او مذهبي قدغونو او قوانینو څخه سرغړونه کوي، او وایي چې دا لازمه نه ده چې انسان دې ټول ټولنیز او مذهبي قوانین و مني، هم داوجه ده چې په رومانوي افکارو کښې داسې نخښې هر وخت تر سترګو کېږي چې له ټولنیزو او مذهبي قوانینو قدغونو څخه د تېښتې و لور ته اشاره کوي، د ښاغلي مجذوب په شاعري کښې هم ځاے په ځاے له ټولنیزو او مذهبي قوانینو څخه د نفرت اظهار شوے دے.

### .ix له مظلوم سره همدردي له ظالم څخه نفرت

د رومانټسیزم د مکتب یو لوے خاصیت دا هم دے چې په افکارو کښې یې هر وخت له مظلوم سره د ملګرتیا او له ظالم او ظلم څخه د نفرت کولو لاره خپله کړې وي، که څه هم له ظلم څخه نفرت د نړۍ هر د شعوي تحریک برخه ګرځېدلې ده، خو په رومانیان دا کار په خپل یوه بېل انداز چې ډېر نرم او پوست وي کوي،

### .x رومانوي اسلوب او طرز تحریر

د اسلوب د عربي ژبې کلمه او معنا ئې د لیکلو یا یوه فن د اظهار هغه ځانګړے یا انفرادي دے چې شاته کوم شعوري شالید (Intellectual Background) (پس منظر) هم ولري، هغه وخت چې کله د خلګو ترمنځ د تګ راتګ وسیلې لږ یا بالک ناپیدې وې نو اسلوبونو به عموماً د جغرافیائي موقعیتونو یا سیمو په رڼا کښې منځ ته راتلل، خو وروسته دغه انداز بدل او اسلوبونه د فکري، ادبي او کلتوري تحریکونو په رڼا کښې منځ ته راتلل پیل شو، هم دا وجه ده چې رومانوي مفکرینو هم له خپلو ځانګړو نظریاتو او افکارو سره ځانګړے اسلوب هم مزئین او منځ ته راوړ، چې وروسته د رومانوي اسلوب په نوم مشهور شو، رومانوي طرز تحریر او فن د څرګندولو انداز له یو شمېر نورو خصوصیاتو سره دا ځانګړنه هم لري چې انداز ئې خوږ، پوست او جذباتو ته اپیل کونکے وي، تر کومه بریده چې د شعر او ادبي طرز تحریر خبره ده نو هلته د براه راست، شډلو او ستوغو الفاظو پر ځاے عموماً له اشارو، کنعایو او تشبهاتو او تر حده زیاتو ملائمو او خوږو الفاظو څخه کار اخستل شوے دے، په نورو فنونو

لکه مصوری، موسیقي، ډرامه او طرز تعمیر کښې هم دغه روش خپل شوے دے، د دغه مکتب فکر شاعرانو، او نورو تخلیقارانو ډېر په شدت او سنجیدګی سره دا کوشش کړے دے چې په خپلو تخلیقاتو کښې داسې څانګړتیاوې پیدا کړي چې هغه نېغه په نېغه او اسانی سره د انسان ذهن او جذباتو ته اپیل او رجوع وکړي، د رومانوي اسلوب د بنیادي څانګړنو لنډیز په دې ډول دے.

### xi. تلمیحات

تلحیمع په اصطلاح کښې هغه څه ته وائي چې کله یو شاعر یا ادیب په خپل کوم شعر یا بل تخلیق کښې د کومې تاریخي یا لرغوني واقع یادونه وکړي، د رومانوي اسلوب یو اهمه څانګړه دا ده چې په تخلیقاتو کښې ئې د تلمیحاتو په خصوص د یوناني تلمیحاتو کارونه ډېره په هنر او ښه توګه شوې ده، په رومانوي اسلوب کښې دا کار څله اړین ګڼل شو دے؟ کېدائے شي چې د داسې کولو نور لاملونه هم وي، خو یو بنیادي لامل ئې دا هم ښکاري چې رومانیان عموماً د براه راست خبرو پر ځاے بالواسطه خبرو کولو ترجیح ورکوي، او تلحیمات (تاریخي واقعات) دا خاصیت لري چې په یادونه ئې یو لوے پېغام په اسانی او موثره توګه متنقل کړل شي.

### xii. حسن پرستي

رومانیان انتهائي زیات حسن پرست او ښائست خوښونکي حسونه لري، دوي هر وخت په دې هڅه او کوشش وي چې د فطرت په هر توکے (عنصر) او هر مظهر کښې یواځې د حسن او ښائښت اړخونه ولټوي، د رومانیانو په فکر د انسان ګېرچاپېره پروت هر شے ښکلے او تحسین دے، هم دا وجه ده په رومانوي اسلوب کښې په شعوري توګه دا کوشش شوے دے چې هر شي ته د ښایښت په نظر وکتل.

### xiii. د انځوري کشی (منظر کشی) روایت

په علمي او ادبي اصطلاح کښې انځور کشي (منظرکشي) هغه روڼ او واضع بیان ته وئیل کېږي چې پر یوه وخت د لوستونکو ډېرو حواسو لکه د لیدلو، اورېدلو، لمس کولو، څکو او نورو ته اپیل وکړي شي، هم دا وجه ده چې د فن او ادب په دنیا کښې دغه هنر ته (انځورکشي) نه یواځې د قدر په سترګه کتل شوے دے بلکې هره هغه فنپاره یا شعري تخلیق اعلے او شاهکار ګڼلے شوے دے چې د انځورکشی خیال پکې ساتل شوے دے، رومانیانو هم د دې لپاره چې پخپلو تخلیقاتو کښې لا خوند او دلچسپي راپیده کړي د منظر کشی هنر ته څانګړي پاملرنه کړې ده، او په رومانوي اسلوب کښې انځورکشي یو هم توکے ګڼل کېږي.

### xiv. نوڤ خیال

د دې خبرې یادونه مخکښې هم و شوه چې رومانویت د روایت ضد افکار پنځوي، زړو او پخوانیو خیالاتو ته په درنه سترګه نه ګوري، هم دا وجه ده چې رومانیان هر وخت په دې هڅه او کوشش پاته شوي دي چې له نوے خیال سره سره نوے طرز تحریر هم متعارف کړي، که خبره یا خیال چرته زوړ هم وي خو دوي یې په رومانوي طرزانداز او طرز تحریر کښې په نوې بڼه او نوي انداز منځ ته راوړي.

### xv. بالواسطه مقصديت

رومانو ي طرز تحرير يا اسلوب عموماً خوږ، پوست او نرم وي، هغه په دې چې په دې طرز تحرير يا اسلوب کښې خبره نېغ په نېغه نه بلکې په بالواسطه توګه کېږي، يعني رومانانيان له شډلو او ستوغو الفاظو څخه تر ډېره بريده ځانونه ساتي، که څه هم دوي د ساده او عام فهمه ژبې پر کارولو هم زور ورکوي، خو له دې سره په خپلو تحريرونو کښې له اشارو، کنعايو او تشبهاتو څخه هم کار اخلي، او مقصد يې دا وي چې تخليق يې د لوستونکو پر مغزو دروند او بوج وزمه غوندي نه شي ثابت.

### xvi. له ټولنيزو او مذهبي اقدارو يا قدغونو څخه بغاوت

د دې لپاره چې انسانانو له يوه بل سره ګډ او په ارام ژوند تېر کړي انسانانو وخت په وخت ټولنيز قوانين وضع کړي دي او لا يې د وضع کېدو لړی روانه ساتلې ده، داسې د نړی هر مذهب هغه که بيا الهامي وي او که بيا د انسانو خپل تخليق خپل اصول او قوانين تعين کړي دي، که څه هم په يوه ټولنه کښې د ټولنيزو او مذهبي قوانينو او قدغونو و نه منلو ته په بده سترګه کتل کېږي، يعني دا بد او ناوړه کار ګڼل کېږي، خو د رومانټسزم منونکي او لاروي بيا د هر ډول ټولنيزو او مذهبي قدغونو او قوانينو څخه سرغړونه کوي، او وايي چې دا لازمه نه ده چې انسان دې ټول ټولنيز او مذهبي قوانين وومني، هم داوجه ده چې په رومانوي افکارو کښې داسې نخښې هر وخت تر سترګو کېږي چې له ټولنيزو او مذهبي قوانينو څخه د تېښتې و لور ته اشاره کوي.

حوالې

1 . همت، عبدالمالک، ادب او ادبي کره کتنه،-، چ- اول، ۱۳۳۹ ل، مخ (۲۲۱)

2 . https://www.infobasepublishing.com/Bookdetail.aspx?ISBN=1438149840&eBooks=1.

3. خټک، راجولي شاه، رومانويتاو پښتو نظم، مشموله، دري مياشتنی جرس ، نظم نمبر، مدير اعلے، طاهر اپريدے، جنوري تا مارچ ۲۰۰۲م مخ ۱۷۸.

4 . Qureshi, Dr. Sofia Sadique, Importance of Romantic Period in Modern Day English, Quest Journals, Volume 9 - Issue 9 (2021)pp: 81-8, ISSN(Online):2321-9467.

5 . جمال، انور، ادبي اصطلاحات، نیشنل بک فاونڈیشن، فرحان پرنٹر، راولپنڈی، (جد سوئم،)، ۲۰۱۲ء، ص ۱۱۰

6. Ibrahim, Dr. Amal. M .A, Romantic Poets Love Nature And Celebrate It In Different Aspects, European Journal Of English Language And Literature Studies, Vol.8, No.3, Pp.59-67, May 2020 Published By ECRTD-UK, Print ISSN: 2055-0138(Print); Online ISSN: 2055-0146(Online).

7 . Qureshi, Dr. Sofia Sadique, Importance of Romantic Period in Modern Day English, Quest Journals, Volume 9 - Issue 9 (2021)pp: 81-8, ISSN(Online):2321-9467.

8 . جمال، انور، ادبي اصطلاحات، نیشنل بک فاونڈیشن، فرحان پرنٹر، راولپنڈی، (جد سوئم،)، ۲۰۱۲ء، ص ۱۱۰

9 . Brawo, Del, Pilar, literary creation and the supernatural in English romanticism, Gist: Education and Learning Research 2007.